دطالبانو ځواک د پيلېدلو په اړه د افغانستان د نوی ګوند څرګندونې
او د دېموکراتو او پرمختللو ځواکونو دندې.
د زمری د میاشی ۲۸ کاال۱۴۰۰ د ۲۰۲۱ کال د آګست ۱۹

د «افغانستان اسلامی جمهوریت» تر نامه لاندې نظام چې در امریکی- ناټو د استراتیژیو سره سم زمونږ په هېواد کې جوړ او هېواد یې د لوی ناورین سره مخامخ کړی وو، په نه منونکی بیړې سره ونړید. ددی نظام جوړونکې برخی چې ډیری یې جهادی ډلې ( په خاصه توګه جمعیت)، او پردیو ګټو پورې تړلې تکنوکراتان ول پر هېواد باندې یې داسې یو اکر(وضع) خپور کړی وو چې د افغانستان له نظام او دهغو بهرنیو مرسته کوونکو پر وړاندې یی د پرګنو د کرکې لامل شول. کېدای شي چې دداسی کرغېړن او پرګنو ضد نظام ړنګېدل د راتلونکي پر لوري د یوې نوي لیدلوري د پرانیستلو لامل شی، ځکه چې د کابل د دولتګوڼې او د( اپوزیسیون په توګه) د دوهم ځل لپاره دطالبانو ځواکمن کېدلو په پایله کې به دربښتینې اپوزیسیون لپاره ځای تش شی چې دوي وکولای شې د اوږدې مودې لپاره د یو دېموکراتیک بدیل په توګه وځلیږی. د کین اړخه پاشلې ځواکونه، د ښځو له ربښتو نه ددفاع او ساتنی خوځښتونه، ویښ ځوانان او په ښاری ټولینزوبرخو کې ګډونوال هغه زېرمې دي چې کولای شي داسی یو اپوزیسیون جوړیدو ته کلک او ډادمن بنسټ شی .
دافغانستان نوی ګوند د پرمختللو ځواکونو او خپل ځان پر وړاندی لاندیني بیړني دندې مخې ته ږدی:
۱ – د هغوجهادیانو د بیا ځواکمن کیدو پروړاندې هڅې، چې په هېواد کې د اوسنی ناورین لامل او د په هېواد کې د خونړیو جګړود اوږدیدو او باعث ګرځی، د افغانستان د ګټو پرضد دی، دغه هلې ځلې دې په ملی او نړیواله کچی څرګند او شنډ شي.
۲ -د هغې خونړي جګړی د پای ته رسیدو نه دې ملاتړ وشی چې له څلورو لسیزو را هیسې روان دی، تر څو په هیواد او دهغه په سیاسی بهیر کې د یو سیاسي پراخ بنسټ جوړښت لپاره چې د هیواد راتلونکی به جوړکړی، لاره هواره شې.
۳ -هغه تاوتریخوالی او بشری ضد کړنې چې زموږ د کړیدلي هیواد والو پر وړاندې د هېواد په هر ګوټ کې تر سره کیږی په ګوته او شنډ شی. دغه کړنې دې په سیمه ایزه او نړیواله کچه په ګوته او ترسره کوونکي یې نړیوالو نیاوتونو(دادګاه) ته وروپیژندل شی.
۴ – دیو هراړخیز پرا خ ملي اوپه نړیواله کچه د هڅو پیل کېدل، چې وشی کړای د اشرف غنی د حکومت د چارواکو له خوا هغه لوټ شوي شتمنی چې په وګړو پورې اړه لری بیرته ترلاسه کړی.
د طالبانو لخوا عمومی بخښنه دې یواځی پر سیاسی برخو کې پلی شی، نه پر هغو جنایت کوونکو چارواکو او جهادیانوباندې چې دافغانستان پر زوریدلو پرګنو او ملي ګټوباندې یې تیري تر سره کړي دي. دغه پراخ او تاریخي خوځښت، چې د بشری حقونو داصلونو پر بنسټ به ترسره شی، نشي کیدای چې په هیڅ ډول د غچ اخیستنی بڼه او مانا ولری، بلکې کولای شی چې د افغانستان د پرګنو د حقونو د ترلاسه کېدنې او ټولنیز نیاو د ټینګښت لامل شی.
۵ -په نړیواله کچه دې هڅه وشي چې له نړیوالو سترګو نه د هیواد لویدلو نه مخ نیوی وشي. د ناټو او په هغه پورې د تړلو هیوادونو ځینې چارواکي داسی لیوالتیا څرګندوی چې ګواکې افغانستان دي له نړیوالو اړیکو څخه وایستل شی. دغه وړاندیز په خپله منځپانګه کې داسې یوه هڅه ده چې په افغانستان کې د اوسنی اکر د رامنځه ته کیدو پړه او ګرمتوب له سترګو پناه کړی، ترڅو په دې توګه دافغانستان وګړي او هوښیار سیاسی ځواکونه دا توان او وار تر لاسه نکړی چې د امریکی – ناټو د جنایتونو او استراتیژیو پر وړاندې په نړیوالو نیاوتونو( محکمو (کې خپله دعوا وړاندې او ددوی پښه دې دغو نیاوتونونوته راکېګاږی او په دې توګه د افغانستان دخلکو دتاوان غوښتنه وکړی.
مونږ باوری یو چې ټولې هلې ځلې دې تر سره شي تر څو د هیواد وَرونه د ټولو نړیوالو پر وړاندې پرانیستې وی، تر څو د هغوی سره د افغانستان وټیز( اقتصادی)، سیاسی، فرهنګی او تکنولوجیکی اړیکې ټینګې شي .همدا نوي اړیکې به د هېواد نوی ځواکمنان نړیوالو ته ور وپیژنی تر څو له هغوی نه د هغوی د کړنواو پړو د حساب کتاب د اخیستلوآرونه برابر شی .هر څومره چې نړیوالو سره د هېواد اړیکې پرانیستي او پراخې وي، دومره به له اوسنی د منځنی پیړیو د ایدیالوجیکو – سیاسی اړیکونه د افغانستان وتلو ته لاره هواره او چټکه شي. دهمدی لاربښود پر بنسټ دې نړیوال مرستندویې موسسې افغانستان خلکوته به نیغ په نېغه مرسته وکړي. دغه مرستې دې ښایې چې تر کلک څارنی لاندې ونیول شي ترڅو لکه د پخوا په شان د جهادی- دولتی لوټمارو غوجلو ته ددغو مرستو دلاري پرانیستلو لاره خنډ شي.
۶- د پرمختللو او دېموکراتیکو ځواکونو دنده ده چې په لومړی پړاو کې دې دیو پراخ او ارت کنفرانس جوړ کړی چې لاربښود او رغوونکی وی. ددغه کنفرانس ددندو وړاندیز د افغانستان د نوی ګوند د ۱۴۰۰ کال دزمری د میاشتی د ۲۱ نېټی په څرګندونو کی په ګوته شوی دی.
هغه ډلې چې په پوهې او یا نا پوهي د دغه سپک جهادي – ناټویی نظام څخه یې ملاتړ کړی وو، کولای شي پداسی حال کې دغه بهیر دراتلونکي پړاو او پرمختګ سره یوځآي شي چې له خپلو تېروتنو او کړنو نه چې د سیاسی پرمختلونکي بهیر پروړاندې خنډ شول، لاس په سر شي.